اللَّهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَجْمَعُ أَوْ تَبْعَثُ عِبَادَكَ" ای الله، په هغې ورځ ما له عذاب څخه وساته چې ته خپل بندګان پکې راټولوې او یا راپاڅوې

له حذيفه بن اليمان رضي الله عنه څخه روایت دی چې : کله به چې رسول الله د ویده کېدو اراده کوله، نو خپل لاس به یې د خپل سر لاندې کېښود او بیا به یې دا دعا ویله: "اللَّهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَجْمَعُ أَوْ تَبْعَثُ عِبَادَكَ" «ای الله، په هغې ورځ ما له عذاب څخه وساته چې ته خپل بندګان پکې راټولوې او یا راپاڅوې.

[صحيح دی] [الترمذي روایت کړی دی]

کله به چې رسول الله د ویده کېدو لپاره بستر ته تلو، نو ښي لاس به یې د سر لاندې کېښود او خپل ښي طرف یې پرې کېښود او ویل به یې: «اللَّهُمَّ» زما ربه «قِنِي» ومې ساته، «عَذَابَكَ» ستا له سزا څخه، «يَوْمَ تَجْمَعُ أَوْ تَبْعَثُ عِبَادَكَ» یعنې په هغه ورځ چې د قیامت په ورځ دې بندګان د حساب لپاره راپورته کوې.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6167